سال سوم شماره ۱۶۶
شماره مسلسل ۲۴۶
یکشنبه ۱۲ اسد ۱۳۸۲ه.ش
۴ جمادی‌الثانی ۱۴۲۴ه ق
3 August 2003

DAILY
اراده
د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

گردهمایی بخاطر تشکیل یک حزب جدید

سران ائتلاف شمال درکابل تشکیل جلسه دادند تا اختلافات گذشته را فراموش کرده وراجع به تشکیل یک حزب جدید به بحث ومذاکره بپردازند.

جلسه شب شنبه رهبران ائتلاف شمال بعداز سقوط رژیم طالبان درسال ۲۰۰۱ میلادی بزرگترین گردهمایی این ائتلاف شمرده میشود درین جلسه آقایان محمدقسیم فهیم معاون اول رئیس اداره انتقالی اسلامی و وزیردفاع ، عبدالکریم خلیلی معاون رئیس اداره انتقالی اسلامی ، داکتر عبدالله وزیرامورخارجه ، یونس قانونی وزیرمعارف ، عبدالرب رسول سیاف یکی از رهبران اسبق مجاهدین اشتراک ورزیده بودند. درین جلسه برهان الدین ربانی رئیس جمهور سابق ، عبدالرشید دوستم رهبر جنبش ملی اسلامی و اسماعیل خان والی هرات اشتراک نداشتند.

د سرحدي لانجي د هواری لپاره د امریکا هڅې

ورمه ورځ د پاکستان او افغانستان تر منځ په پوله د القاعده شبکی او طالبانو د پاتی شونو د مخنیوی له پاره په ویش کی د پاکستانی ، امریکایي او افغان لوړ پوړو مامورینو تر منځ یوه غونډه وشوه په غونډه کي پریکړه وشوه چې د افغانستان او پاکستان تر منځ په پوله باندي به اغزن تار واچول شي او ددی ترڅنګ به څارونکي څراغونه هم ولګول شي .

په چمن کی په پوله پراته پاکستانی سرحدی ځواکونه وایي چې افغانستان ته د طالب جنګیالیو د مخنیوی په موخه یي پوله ټینګه کړې ده خو له بله خوا افغانی مقامات ادعا کوي چې د القاعدې پاتی شوني هره ورځ له پاکستان څخه د وران کاری لپاره د افغانستان خاوري ته داخلیږي او تر حملو وروسته بیرته پاکستان ته اوړي . ددې تر څنګ پاکستاني مقامات په وار وار دا هم وایي چې طالب سرتیری د افغانستان په غرونو کی پټ دی او دچریکی حملو له پاره وخت نا وخت کلیو ته داخلیږي .

د ورمي ورځې په غونډه کې دا پریکړه هم شوې چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د پولي د جاج اخیستلو لپاره به د دریو واړو هیوادونو مامورین به هر میاشت کې دوه ځله یو ځای سره غونډیږي .

یوه ښځه اویوه ماشومه ووژل شول

د خوست د یعقوبیو په ولسوالی کې ورمه شپه د یو ځایي ډاکتر کور ته لاسي بمب غورځول شوی دی . په دغه پیښه کې یوه ښځه او یو ماشومه جلی وژل شوې او پخپله ډاکتر ټپی شوی دی . د خوست پولیسو د ډاکتر لایق کور ته د بمب غورځولو په تور څوك نه دي نیولي او دا يي هم نده څرګنده کړې چې ددغه پیښی اصلی علت څه و .

خشونت دربرابریک کارمنددولتی

به گزارش هندوکش: ۷نفر افراد مسلح وارد محوطه کوپراتیف های دهقانی گردیده وباتهدیدوفشار می خواستند سید علی هاشمی رئیس آن موسسه را با خود ببرند، بعدازآنکه کاربه جنجال ، کش وگیر ر سید. موظفین قطعه ۲۰۳ تشریفات پولیس مداخله کرده وبا این طریق افراد مسلح مذکور فرار نمودند.این افراد مسلح گفته بودند که ازطرف داکتر عبدالحی الهی عضو کمیسیون تدقیق قانون اساسی ورئیس سازمان های اجتماعی توظیف به این عمل خشونت آمیز شده اندقضیه روز چهارشنبه گذشته اتفاق افتاده بود.

په هرات کې وسلې نیول شوې دي

د هرات پولیس وایي یوه اندازه وسلې چې د دوی په وینا پدې ولایت کې د ګډوډی د رامنځ ته کولو په موخه ځای پر ځای شوی وې ونیولې دا وسلې د هرات د اومې ناحیی د سیمی له یوه کور څخه نیول شوی دي . د هرات د پولیسو په وینا په دغو نیول شوو وسلو کې یوه اندازه سپکې او درندې وسلې شاملې دي . پولیس وایي ددی پیښی په تور یي یوازی یو تن نیولي دی .

دخوست په پولیسو احتجاج

په خوست کې یو شمیر معلولین د پولیسو له بد چلند څخه د شکایت په توګه ددې ولایت د امنیې قوماندانی مخې ته راغونډ شوی وو د دوی شمیر لسګونو کسانو ته رسیده . معلولینو دغه احتجاج وروسته تر هغه تر سره کړ چې په دې ولایت کې د معلولینو د چارو مشر د پولیسو په یوه پوسته کی وهل شوی و . د خوست امنیتی چارواکو ویلی له هغو پولیسانو څخه چې د معلولینو مشر یي وهلی دی پوښتنې ګرویږنی تر سره کړي او وروسته به له دغو پولیسو سره قانونی چلند وکړي .

د لوی او ښونکی خدای په نامه

سرمقاله

چرا راه های عملی جلو گیری ازفساد اداری بررسی نمیشود؟

مبارزه با فساد ، رشوه خواری وسوء استفاده بدون شک یکی از موارد عمده وجدی درخط مشی دولتها وحکومتها ست.

جلوگیری از همین سه عامل میتواند دولتها را در اداره امور کشور به پیروزی وسربلندی برساند. رشانس دوباره انتخاب شدن را برای شان به سهولت میسر گرداند. وهمچنان همین عوامل میتواند یک دولت ویا یک حکومت رابه سراشیب سقوط واستیضاح و افتضاح بکشاند.

درجلسه اخیر کابینه ، آقای کرزی رئیس دولت انتقالی اسلامی، یکبار دیگر با احساس مسؤولیت براین موضوع تأکید کرده است. این تأکید شاید ناشی از آنست که فساد اداری ، رشوه خواری و سوء استفاده به انواع و اشکال گوناگون ودر سطوح گسترده در دوایر دولتی چنان تعمیم یافته وبیداد میکند که به یک اصل لازمه کاردولتی مبدل شده دراینجا این پرسش به میان می آید که بدون شک آقای کرزی یگانه کسیست که نسبت به این معضله عظیم و وحشتناک در دستگاه دولت احساس مسوولیت می کند. درغیر آن این "مشک خود بو)) درهمه ادارات به گونه یک اپیدمی ساری استیلا یافته است و همه دست برالاشه آنرا بیغرضانه وبه گونه' یک امرطبیعی تماشا می کنیم!

پنهان نکنیم که دلایل وعوامل پیدایی اینها برای کار گزاران دولت مشهود وآشکار است وراه حل آن نیزتا حدودی آسان.

حقیقت اینست که کسانی دردستگاه دولت که به سوء استفاده ، رشوه خواری وفساد اداری وغیره دست میزنند، مامورین بی واسطه وبی پشتوانه وغیر وابسته به اشخاص قدرتمند ، نیستند. برعکس، استفاده جویان ورشوه خواران وفساد پیشگان اداری ، همانا افرادی هستند که درحلقات کوچک ومنظم فعالیت می کنند که جلو گیری از آنها با اتمو سفیر موجود ومسلط، سهل و آسان وامکان پذیر نیست.

بقیه ص ۴

په جوزجان کې د بې وسلې کولو لړی نن پیل کیږی

د جوزجان په څلورو ولسوالیو کې به د بې وسلې کولو پروګرام نن پیل شي ، د ملي اسلامی جنبش یو جنرال عبادالله وایي د بې وسلې کولو دا پروګرام د هغه پخواني پرواګرام په ترځ کې تر سره کیږي چې څو میاشتې وړاندې د افغانستان په شمال کې پیل شوی دی . دوی د بریتانیی د بیا رغونی له ځواك یا PRT او د ملګرو ملتونوله استازو څخه هیله کړې چې ددې پروګرام د پلي کولو چاري دې له نږدې څخه وڅاري .

تردې د مخه د ملي اسلامی جنبش ډلې د فاریاب په ولایت کیی هم د وسلو په غونډولو لاس پورې کړی و خو یو شمیر نورو کسانو بیا د جنرال عبدالرشید دوستم پدې کار نیوکه درلوده او ویل یې چې دی غواړي پدې توګه خپل مخالفین بې وسلې کړي .

گزارش هفته وار دفتر UNHCR

درگزارش آمده است که عودت کننده گان ازکشورهای همسایه اختیاردارند که قریه ومحل سکونت اصلی شان ویا هرنقطه دیگری را درداخل افغانستان برای بازگشت انتخاب نمایند اما نه کمپ های بی جا شده گان داخلی را .تمام مهاجرین که خواهان کمک UNHCR برای بازگشت ازپاکستان به افغانستان باشند، ماشین ایریس(قزحیه) چشم بگذارند . این ماشین یک تکنالوژی متکی برکمپیوتر بوده که چشم را معاینه وثبت مینماید واگر کسی قبلاً معاینه وثبت شده باشد ، آنرا تشخیص نموده میتواند ، این ماشین تصویر چشم را نگرفته بلکه یک عددرا که مشابه به چاپ انگشت میباشد ، ثبت مینماید.

نظر به منزل آخر درافغانستان ، هرعضو فامیل از ۳ تا ۳۰ دالر امریکائی دریافت خواهد کرد واین کمک حداکثر تاهفت نفر برای هر یک فامیل محدود خواهد بود اطفال کمتر ازسن یک سال نصف مبلغ اعضای دیگر فامیل را دریافت خواهند کرد. عودت کننده گان ایکه ازکراچی برمی گردند تادرمرکز تادیه اول، فی نفر مبلغ ۵ دالر اضافی دریافت می نمایند.

غم نان
ص(۲)
غم بزرگیست

سیمه ییزو چارواکو خپله
ص(۲)
تکیه له لاسه ورکړی ده

سیمه ییزو چارواکو خپله تکیه له لاسه ورکړې ده

په هغه وخت کې چې طالبانو دخپلو بادارانو په مالي او پوځي مستقیمو مرستو سره دهیواد په ۹۵% خاوره باندې دیکتاتورانه واکمنی ټینګه کړې وه دهیواد خلك دهغوی له اعمالو اوکړنو څخه چې نه یوازې یې په خلکو باندې ظاهراً ظلمونه کول بلکې هیواد یې هم دهرې ورځې په تیریدو سره دعلم اوپرمختګ له روښنایی څخه شاته کولو، ناراضه وو. دهیواد په همدغه ناوړو شرایطو کې او حالاتو کې خلك دطالبانو په مقابل کې دیوه نوي حرکت او یا خودمقاومت د ډلو دبری هیله من وو اودایې پتیلې وه چې دوخت په رارسیدلو سره به طالبانو ته په ماته ورکولو اودهغوی دفعالیتونو په مخنیوی کې مهم رول ولوبوي.

اوس داسې لیدل کیږي چې دهیواد په ځینو سرحدی ولایاتو کې دطالبانو وسله وال ځواکونه په ښکاره ګرزیږي پټ او ښکاره داسې اعمال سرته رسوی چې دهیواد او خلکو سوکاله اوامنیتی ژوند له خطرونو سره مخ کوي اوخلك ددولتی واکمنی او طالبی ځواکونو ترمنځ په یو بې طرفه دریځ کې ځان ولاړ بولي.

ځیني عوامل موجود دي چې طالبي وسلەوالو ځواکونو ته یې دبیا حرکت دګړندي کولو زمینه برابره کړې ده. لومړی دا چې طالبان دپاکستان له خاورې څخه دیخوا زموږ هیواد ته وسلەوال رالیږل کیږي او پاکستان دامریکائیانو په وړاندې دوه مخي ژورسیاست غوره کړي چې له یوې خوامریکائیانو ته فریب ورکوي اومالی امکانات هم ترې لاسته راوړي اوله بلې خوا دافغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې له امله بیا طالبان وسله وال کوي او رالیږی یې خوامریکائیانوته دا پلمه وړاندې کوی چې دا وسله وال طالبان ګنې دقبایلو له خاوری څخه افغانستان ته داخلیږي.

دقبایلي سیمو خلك دطالبانو دراتګ مخنیوی نه کوی اوځان دپاکستان په مقابل کې یا د افغانستان له پاره په جوال کې نه اچوي.

طالبانو دخپلې واکمنی په دوره کې هم په سترو قاچاقی شبکو کې شراکت اوګډون درلود اوس هم غواړي چې دامن اوامنیت په خرابولو سره خپل قاچاقی کارونه هم پرمخ بوځي. دسیمو قاچاق بران هم دامن اوامنیت پلویان نه دی بلکې خپلې ګټې په ناارامی اودطالبانو په واکمنی کې زیاتی بولي نو ځکه خو په سیمو کې قاچاقی شبکې ور سره تړلي دي.

په سرحدی ولایتونوکی د انتقالی دولت له خوا مامورینو ته په خپل وخت د دغه کم ټاکل شوی معاش دنه ورکولو له امله ناخوښی رامنځته شوی ده اوله بلې خوا دزیاتو انتقادونو اوپیشنهادونو له کولو سره سره خلك په خپلو ولسوالیو او ولایتونو کې په خپل سرد ټاکل شوو ملکی اوپوځی چارواکو له ظلمونو اوناروا وو څخه ترسپړمو پوري راغلی اوس پدې اوسنیو شرایطو کې دسرحدی ولایتونو خلك دطالبانو دبیاراتګ او تخریبی اعمالو اودامنیت دخرابولو او د دولتی واکمنی دلمنی دورتولولو په باره کې عکس العملونه نه ښيئ تر هغې پوری چې دولت په خپلو اوسنیو پوځی او ملکی چارواکو کې ژور بدلونونه رامنځته نه کړي. او برطرف نشي ورځ په ورځ به امنیتی حالات خراب شي او اوسنی سیمه ییز پوځي چارواکی هم نشی کولای چې امنیت وساتلی شي ځکه چې سیمه ییز چارواکی په اولس کی ښه باور او پلوی نه لری او ویلای شو چې سیمه ییزو چارواکو په اولس کی خپل باور او تکیه له لاسه ورکړې ده .

تیر پسې

پر افغانستان د پاکستان د اوسنی تیري موخه

غلام جیلانی خواك

دجهاد او بیا دافغانستان دکورنی جګړې په دوران کې دپاکستان درول او دطالبانو دپروژې په هکله دڅه ویلو ضرورت نشته خو باید وویل شي چې دطالبانو په وخت کې کله چې پاکستان دافغانستان له خوا دګواښ دپیښیدو نه ډاډمن شو دډیورند دکرښې دواړو خواوو کې یې دپراختیا غوښتني سیاست غوره کړ او دډیو رنډ دکرښې نه دیخوا دګوشتي دولسوالي په ځینو سیمو کې یې دپاکستاني تذ کرو (شناختی کارد) ویشل پیل کړل او ځیني قبایلي سیمې یې نیغ په نیغه داسلام آباد په کنترول کې راوستلی دا کار زمونږ ملی موجودیت ته ستر ګواښ و خو لکه څرنګه چې په هغه وخت کې هیواد کې کوم ملي حکومت موجود نه و نوله کوم مناسب غبرګون سره مخ نه شو.

اوس دادی پاکستان دقبایلو دخودمختاری دلمنځه وړلو اود پراختیا غوښتني سیاست چې ددسامبر د یولسمی نیټې له امله دڅه وخت لپاره ځنډولی و بیا پیل کړ. لمړی په پکتیا، پکتیکا او بیا په کنړ اوننګرهار کې یې د ډیورنډ دکرښې نه دیخوا پښې راوغزولې.

زما په نظر پاکستان په دې هکله څو عمده اهداف لري. پاکستان وایی چې دپاکستان پوځیان دافغانستان اوامریکې ددې ګوتینونې له امله دې سیمې ته ننوتی چې ګواکی دالقاعده غړی او طالبان ددې سیمو نه د افغانستان په ضد خپل عملیات ترسره کوي.

پاکستان په دې لویه کې دوه ګټې لري کە پاکستان د افغانستان دفشار له امله دې ته اړ شي چې د اسیمې پریږدی نو پاکستان به ددی تور نه ځان خلاص کړي چې پاکستان په قبایلی سیمو کې دطالبانو مخنیوی نه کوی او په دې توګه به دیوې اوږدې مودې لپاره ددې سیمې نه د افغانستان په خلاف د فعالیتونو امکان ترلاسه کړی او که نه نو پاکستان به وکولای شي خپل دپراختیا غوښتني سیاست په قبایلی سیمو کې پلي کړي.

همدارنګه پاکستان دا دعوه لري چې دپاکستان پوځیان د ډیورنډ دکرښې نه ندی اوښتی اودکومو سیمو په هکله چې دعوی کیږي هلته سرحدی کرښه واضحه او روښانه نده.

دا ټکی دپاکستان داوسنی عملیاتو ترټولو ستر اوعمده هدف دی.

له نن نه لس کاله وړاندې چې دډیورنډ دفرضي کرښې سل کاله پوره شول د ډیورنډ دکرښې ددواړو خواوو افغانانو لخوا داخبره پورته شوه چې د ډیورنډ دتړون دسلو کالو په پوره کیدو سره ددی تړون دموثریت دوره پوره شوه او له دې څخه وروسته کوم قانونی اوحقوقی ارزښت نلري، دی خبرې ډیر بحثونه را وپارول ،دپاکستان لوری وایی چې ددې تړون سل کاله پوره شوی خو څرنګه چې دتړون یواړخ هم دا تړون باطل ندی اعلام کړی نو دا تړون اوس هم لکه څرنګه چې دی همداسې په خپل قوت پاتی دی. او موثریت یې ځای په ځای دی خو مخالفین یې وایی چې دا تړون که باطل ندی اعلام شوی نو بیا تایید شوی هم ندی نو په دې توګه یې خپل قانونی ارزښت پخپله دلاسه ورکړی.

اوس دپاکستان حکومت ددې فرضي کرښې په وسیله غواړي دافغانستان حکومت چې په ډیرو نورو ستونځوکی هم ښکیل دی. او دیوې نوی ستونځي دزغملو وس نلري په دې مجبور کړي چې په دې هکله دپاکستان سره خبرې اترې وکړي او د ډیورنډ کرښې حدود په کومو ځایو کې چې معلومې ندی وټاکي. په دې توګه به پاکستان د افغانستان دیو داسې حکومت نه چې دلویه جرګې لخوا یې مشروعیت موندلی داسې سند ترلاسه کړي چې د ډیورنډ کرښه دافغانستان او پاکستان دسرحد په توګه درسمیت په پیژندلو دلالت وکړي.

دافغانستان خلك دښاغلي کرزی دحکومت نه هیله لري چې په دې هکله به پوره احتیاط عمل وکړي اوس چې د حکومت لخوا ټاکل شوی هیئت هم دپاکستان تیری تائید کړی نو په دې هکله حکومت باید جدی ګامونه پورته کړي.

زمونږ ملی غرور او افغانی غیرت دا ایجابوی چې باید دڅپړې ځواب په سوك ورکړل شي ددی په خوا کې که افغانستان په دی هکله پاکستان سره خبرو اترو ته کښیني نو هم باید دخبرو اترو په دوران کې او هم دکوم تړون په مسوده کې داسې کوم عبارت رانشي چې د افغانستان لخوا دډیورنډ کرښه دافغانستان او پاکستان د سرحد په توګه دمنلو مفهوم ارائه کړی باید هر ځای کی د افغانستان او پاکستان دسرحد دعبارت پرځای د (ډیورنډ دفرضی کرښې) عبارت وویل او ولیکل شي.

شکوهی

غم نان، غم بزرگیست

چرا نان به وزن فروش نمیشود؟

نان، یگانه غذای بخور و نمیر اکثریت مردم ماست که شب وروز خود را بایک توته نان خشک ویک پیاله چای میگذرانند وگذاره خود رامی کنند. اما همین نان هم از دست استفاده جویان وچاپ اندازان دارایی های عامه وسود جویان بدورنمانده است.

از چند ماه به اینطرف که به اثر بارند گیها متواتر کشت گندم در کشور روبه فراوانی رفته، در حدود ۴۰ درصد درقیمت آن کاهش بعمل آمده ، ولی وزن نان نه تنها به تناسب سال گذشته کمتر شده، بلکه درقیمت فروش آن باوجود کم شدن مداوم از وزن آن، هیچگونه تغییری به بارنیامده است.

اگر بخواهیم شاروالی رابه عنوان یک مرجع بازخواست کننده دُرنظر آوریم از اداره موظف و مسوول آن که همانا اداره کنترول قیم است سخن بگوییم بهتر است این آرزو رامثل همه آروزهای دیگری که به خاطر بهبود امور درین کشور داریم باید بگورببریم و از آن ناگفته و ناشنفته بگذریم. زیرا مسأله کنترول قیم واز جمله کنترول نان هیچوقت بصورت منظم عملی نشده و مورد باز خواست قرار نگرفته ودر آینده نیز باید از این ناحیه دل جمع باشیم وچندان چشمداشتی نداشته باشیم!

از این جهت یگانه راه حل شاید این باشد که نان باید به وزن فروخته شود ، زیرا درصورتیکه چنین امر عملی شود، نه تنها کنترول آن هم برای مردم و هم برای مسؤلین کنترول قیم که اگر تصادفاً بخواهند نانوایان بی انصاف (!) را آزرده وناراحت بسازند. میتوانند، همه زغاله خمیر وهم نان پخته شده راوزن کنند، به اصطلاح موی رایکباره از خمیر کشیده خواهند بود.

اما واقعیت اینطوراست که هم خبازان وهم مسوولین کنترول قیم با این شیوه فروش نان به وزن چندان سازگار نیستند اما اگر مقامات شاروالی واقعاً میخواهند خدمتی را برای مردم مخصوصاً مامورین ومعلمان بینوا وکم بغل انجام بدهند بهتر است که نسبت به این امر توجه نمایند.

در آنصورت هر قرص نان که باید به اساس نرخنامه شاروالی ۱۸۰ گرام باشد و در مقابل سه افغانی عرضه شود برعکس هر قرص نان سه افغانیگی کمتر از ۱۵۰ گرام وحتی به ۱۴۰ گرام نیز تنزل میکند ولذا به همان پیمانه که خباز و شرکاء درزمینه سود میبرند. مردم بیچاره وبینوای خریده خور، به همان اندازه زیان می بینند وخساره مند می شوند که اگر در یک مقطع زمان طولانی سنجیده شود سود وزیان آن هردو هنگفت وقابل توجه میتواند بود.

پس ، اگر شاروالی میخواهد ، کاری مفید برای مردم انجام بدهد، یکی از آن کارها حل همین مسأله نان است. زیرا غم نان برای مردم ما غم بزرگیست. شاید این برای آنانیکه در تنعم به سرمیبرند و با گوشت ومیوه وسبزیها وغیره سروکار دارند این مسأله "نان" بی بها وپیش پا افتاده خواهد بود اما برای اکثریت مردم ما، ارزش حیاتی دارند.

متصدی صفحه: حسیب الله نوري

راتلونکي دځوانانو ده

دځوانانو هیلی او دندی

انسانی ژوند بیلابیل پړاوونه لري، ماشومتوب، نوی ځواني، ځوانی او بوډا توب په دې پړاوونو کې نوې ځواني اوځوانی ډیر اساسی پړاو وی ځکه چې دژوندانه تګلاره اوراتلونکی عادتو نه خپلول له همدی عمر څخه پیلیږی دژوندانه هیلی اوارمانونه په اساسی ډول دځوانی په عمر کې ټاکل کیږي او څه ډول چې روحی زده کړه او تلقینونه خپل شي هغه ډول به دعمر ترپایه اغیزمن وي. نو ځکه ځوانانو ته ښایی په دې عمر یا دژوندانه د اوږدو په دې پړاو کې داسې لاره خپله کړی اوداسې هیلې په سرکې وروزی چې هم ده ته هم بشریت ته اوهم راتلونکی ژوندانه ته یې ګټورې وي.

تر ټولو دمخه دځان پیژندل اودژوندانه دموخو ټاکل ډیر مهم وي. په ژوندانه کې باید داسې هیلې خپلې شي اوداسې موخې وټاکل شي چې دعلم پر بنسټ ولاړې اوګټوری وي. ځنې وخت زمونږ ځنې ځوانان دژوندانه په دې پړاو کې داسې موخې اوهیلې ځانته ټاکی چې هم دده او هم دبشریت په زیان وي او تر ډیره ځایه ددغو موخو ټاکل سرچینه اخلي د ژوند له چاپریال څخه اوهم دټولنیزو رواجونو څخه. په هغو ځوانانو کې چې دکمزوری کورنۍ روزنې درلودونکی وي دپیښو او بوختیاوو منفی اړخونه ډیر ژر پرې اغیزه کوي. دبیلګې په ډول که چیرې ځوانان ناسم فلمونه ګوری یا په ټولنه کې داسې کسان ګوري چې په منفی شخصیت کې ځان نورو ته دموډ یا یاښوونې په توګه وړاندې کوي نو سم له لاسه له هغه څخه په تقلید لاس پورې کوي. همدغه ده چې انسان بد کرکتره، معتاد، ریا کاره اوپه ټولنه کې دمنفي شخصیت په توګه تبارز کوي.

اوکه چیرې انسان دژوند په دې پړاو کې دپیښو مثبت اړخ چې هم ده او هم یې چاپیریال ته ګټوروي خپل کړي او وغواړی چې خپل شخصیت په همدې چوکاټ کې وروزی نو داروزنه دده په عادتونو کې ځان ځایوی او د ده شخصیت عالی او مثبتې خواته درومي او وده کوي.

ځوانان باید تل ښې هیلې خپلې کړي اوځان دژوندانه په بهیر کې یو مثبت خیر رسوونکی، عابد، باوجدان، مخلص، حلیم او تقوا لرونکی احساس کړي. او خپلې هڅې دخدای (ج) درضا او دمخلوق دخدمت په لور سمی کړي.

ښه خیال اودښو هیلو خیال دښو ځوانانو کاروي خودښو پیژندل خپله بیل کار دی چې هڅو، تفکر او زده کړې ته اړتیا لري. له نیکه مرغه دغه مسلمانان دداسې یوې غنی منبع څخه برخمن دی چې په ترڅ کې یې دژوند دموخو او هیلو ټاکل ډیر آسانه او روښانه کیږي. هوکی داسلام دسپیڅلی دین ارشادات قرآن عظیم الشان او نبوی احادیث دژوندانه داسې ښه لارښود دي چې دښه والی تائیدان له، فوق بشری او بی عیبه ذات څخه راغلی دی نوکولای شو چې په ترڅ کې یې دخپلو موخو ټاکل او دژوندانه دبهیر ټول کړه وړه عیار کړو څو وکولای شو انسانی عالی پړاو اود هیلواو ارزوګانو مثبتو او ښو پایلو ته ځانونه ورسوو.

هوکی ګرانو ځوانانو! په ژوندانه کې تل ښې هیلې وټاکی. دښو اخلاقو لاره غوره او په کار او زیار سره دزغملو او صبر په خپلولو سره د ابدی بریو او هوسایی په لاره کې پل کیږدي.

دوپرسش ازدوجوان

حمیرا متعلم صنف یازدهم نسوان نمبر ۱۲ خیرخانه: جوان خوب کسی است که ازکردار بد دوری جوید وبه بیچاره گان وبینوایان معاونت نماید. جوان کسی است که به درمانده گان نیک خواه بوده ودشمنان را به نیکی رهنمائی نماید. جوان آن است که وظیفه که به او سپرده میشود آنرا با کمال صداقت وامانت داری انجام داده وبکوشد تا ازراه انجام عملی خدمتی به هموطنان وهمنوعان خود نموده باشد.

جوان آنست که اقدام بکاری نکند تا مفاد جامعه اش درآن متصور نباشد جوان آنست که دیگران را به خدمت گذاری درراه ارتقاء وطن تشویق نماید جوان آنست که منافع اجتماعی خود را برمنافع شخصی خویش ترجیح داده وهیچگاه به خاطر منفعت شخصی خویش حق اجتماع خودرا پا مال نسازد.

بالاخره باید بگویم که جوان خوب و حقیقی آنست که با تمام قدرت وتوانایی در راه اعتلای خاک وکشور عزیزخویش کمرهمت بسته نموده وبکوشد تا نارسائی های اجتماعی کشورش را ازراه خدمت صادقانه اصلاح نماید وجامعه خود را به مدارج عالی ترقی وانکشاف سوق دهد.

غلام رسول محصل پوهنتون تعلیم وتربیه: به نظر شما جوان صادق ووطن پرست چه کسیست؟

یک جامعه هرقدر پیشرفت وترقی کرده باشد بازهم به ترقی وانکشاف ضرورت دارد این انکشاف تنها به سعی، دانش وجان نثاری قشر جوان وروشنفکر ران ارتباط دارد کلمه جوان را ما به شخصی اطلاق میکنیم که وظایف ایمانی ووجدانی خود را درک کرده باشد ووظایف خودرا دربرابر وطن ومردم خود طوری که لازم است انجام دهد. رسیدن به یک هدف ورسیدن به کاروان ترقی وتمدن وقتی میسر میشود که جوانان ما متفقاً دست همکاری به هم داده واجتماع خود را به کاروان ترقی وتمدن همکنار سازند. جوانان باید وقت گرانبهای خود را بیهوده صرف نکرده وازوقت که آنان دارند استفاده اعظمی نموده وخود را به مطالعه مشغول نمایند وازاین طریق به واقعیت ها پی برده وخود را بحیث یک جوان صادق ووطن پرست معرفی نمایند.

د بامیانو په ولایت کی ښوونه او روزنه

دبامیانو په ولایت کی سږ کال د ښوونی او روزنی څرنګوالی ډیر ښه شوی دی. زمونږ ځوانان د زده کړی لپاره ښوونځی ته روان دي.

په دغه ولایت کی 83 د هلکانو لومړنی ښوونځی او 13 د نجونو لومړنی ښوونځی فعال دی دغه راز د هلکانو 31 منځنی، 13 لیسی.او د نجونو 9 منځنی ښوونځی فعال دی ددغه ولایت د زده کوونکو شمیر 25665 تنو ته رسیږي چې د 963 تنو ښوونکو له خوا لوست ورکول کیږي.

په دغه ولایت کی 44 ښوونځی اوس اوس نوی جوړ شوی چی 14 یی د یکه ولنګ په ولسوالی کی 15 یی د بامیانو په مرکز و نور یی ددغه ولایت په نورو سیمو کی جوړ شوی دی.

په دغه ولایت کی 12 ښوونځی له خپل پخوانی حالت څخه لوړ شوی دی او 13 نوی ښوونځی د ښوونی او روزنی په وزارت کی ثبت شوی دی دبامیانو په ولایت کی تیر کال 60 ښوونځی بیا جوړ شوی دی او 70 ښوونځی لوړو سویو ته لوړ شوی دی.

خو د لوړو زده کړو په برخه کی دومره جدی اقدام تر اوسه پوری نده شوی د بامیانو د ولایت پوهنتون چی په 1376 کال کی فعال شوی و د امریکایی طیارو له خوا د طالبانو په وخت کی بمباران شوی و او اوس بیا له سره دغه پوهنتون جوړیږی.

ازگفته های بزرگان

بزرگترین اختلاف میان انسان وحیوان در فهم وفکر نیست، بلکه درداشتن اراده واختیار است. (روسو)

به نیروی اراده میتوان بهمه چیز دست یافت، اما این اراده محرک و تازیانه لازم دارد اگر آنرا بکار نیندازیم قوای باطنی ما رازنگ میزند. (لابوله)

نیروی علم ومعرفت بدون اراده قوی مانند درخت بی بار است، قوه اراده محور چرخهای زنده گی وآهن ربای توانائی وکامیابی است. (کاظم زاده ایرانی)

از تمام صفاتی که برای پرورش جان وجسم شما سودمند تر است هیچ یک به اندازه عزم واراده مفید نیست، قوه اراده وعزم در آدمی تقویت نمی شود ورشد و نمو نمیکند مگر درنتیجه بکار انداختن دائمی آن

(اسمائلز)

ځوانان او هیلی

— عبدالرشید چې د ښونځی په لسم ټولګې زده کړه کوي وایی: زه هیله مندیم چې دطب پوهنځی کې شامل شم اوپه راتلونکی کې هیوادوالو ته ښه خدمت ترسره کړم. دی دې هدف ته درسیدو لپاره وایی چې باید زه کوښښ وکړم زیار اوباسم او دښو اخلاقو ترڅنګ ښه زده کړه وکړم.

دی وایی زه په خپل ټولګی کی اول نمره یم نو ځکه مې ښی راتلونکی ته هیله شته.

— معصومه "افغان" چی اوس له زده کړې څخه پاتې شوې وايي: کله چې زمونږ کور په پيښور کې و نو ماخپلې زده کړې کولې کله چې افغانستان ته راغلم له بده مرغه له زده کړې څخه پاتې شوم، هيله لرم راتلونکي کې زده کړه وکړم زه هيله لرم څو چې دښوونې اوروزنې وزارت نجونو زده کونکو ته دترانسپورت او موټرو زمينه برابره کړي څو چې نجونې په آسانۍ سره خپلو ښوونځيو ته ولاړې شي.

احمد جاويد دکابل پوهنتون دلومړی کال زده کوونکی وایی: زما کور په پیښور کې دی زه دلته په لیله کې یم زما ټول فکر له زده کړو سره دی دا چې زه خپلې کورنۍ دلته رالیږلی یم او تر اوسه یې زما دزده کړې زمینه برابره کړې نو زه باید په زیار او کوښښ سره دهغوی هیلې پرځای کړم.

جاوید وایی زه پنځه وخته خپل لمونځ کوم کوښښ کوم چې ټولو ملګرو سره ښه چلند ولرم او خپله ټولنه کې داخلاقو نمونه واوسم.

بی شمیره ستوري

ګرانو ځوانانو! دادی ستاسو دمعلوماتو دډیرولو لپاره مو دبی بی سی له انترنیتی ویب سایت څخه یو مطلب را نقل کړی دی.

ستورو پیژندونکو اعلام وکړ چې دهغو ستورو شمیر چې په فضا کې دلیدلو وړ دی ډیر زیات دی.

دغه نظر په هغه غونډه کې څرګند شو چې دستورو پیژندونکو دنړیوالې اتحادیې له خوا په سیدنی کې جوړه شوی وه.

په دې غونډه کې ګډون کوونکی سایمون درایور چې داسترالیا یی هیات مشر هم دی خبری وکړی اووې ویل دهغو ستورو شمیر میلیونو میلیونو ته رسیږي چې د تلسکوپونو له لاری دلیدو وړ دی.

دکتور درایو رویلی چې دټولې فضا دستروپوره شمیر په قطعی توګه له دینه ډیر دی اوان ممکنه ده چې بیشمیره وي.

استرالیایی څیړونکی دستورو دشمیرنې لاره هم خلکو ته توضیح کړه په دې څیړنه کې آسمان په څو برخو ویشل شوی او بیا وروسته دلیدو وړ ستوری محاسبه شوی دي. چې دبرخو شمیر دستورو په شمیر کې ضرب شوی بیا دستورو شمیر لاس ته راغلی دی.

هوکی ګرانو ځوانانو او درنو لوستونکو! دخدای (ج) قدرت دومره لوی دی چې یوازې دستورو په شمیر لویې هم انسان نه دی توانیدلای دهغو په هکله څیړنه او نور معلومات خولا پریږده.

ACKU

دستور بررسی انفجار در شفاخانه نظامی روسیه

ولادیمیر پوتین، رییس جمهور روسیه، به سرگیی ایوانف، وزیر دفاع آن کشور، دستور داده است شخصا حادثه انفجار در یک شفاخانه نظامی آن کشور را مورد بررسی قرار دهد. این شفاخانه نظامی در جمهوری اوستیای شمالی، از جمهوری های فدراتیف روسیه، هدف انفجار انتحاری قرار گرفته است.

در این انفجار، گروهی از کارکنان شفاخانه و بیماران کشته و زخمی شده اند.



مقامات دولتی تعداد کشته شدگان این انفجار را سی و پنج نفر و تعداد زخمی ها را به مراتب بیشتر اعلام کرده اند. گروه های امداد همچنان برای یافتن کسانی که ممکن است هنوز زنده مانده باشند به جستجو در میان آوار ناشی از این انفجار ادامه می دهند.

به گفته مقامات نظامی روسیه، یک بمب گذار انتحاری موتر حامل مواد منفجوره را به داخل محوطه شفاخانه راند و در کنار ساختمان اصلی شفاخانه آن را منفجور کرد. بیش از یکصد بیمار، که اکثرا سربازان زخمی اردوی روسیه بودند، در این شفاخانه تحت درمان قرار داشتند.

دو ماه قبل نیز یک زن چچنی با منفجر کردن مواد منفجره همراه خود در یک بس در شهر موزدوک باعث کشته شدن هژده نفر شد.

انفجار در بیروت دوکشته داد

انفجار بمب در بیروت، پایتخت لبنان دست کم دو کشته و تعداد نامعلومی زخمی برجای گذاشته است.

به گفته مقامات لبنان این بمب که ظاهرا در موتری کار گذاشته شده بود در ساحات مزدحم در جاده هادی نصرالله از جمله مراکز خریدوفروش شهر، منفجور شد. این جاده در ناحیه عمدتا شیعه نشین جنوب بیروت واقع است به گفته مقامات، در انفجار این موتر که در کنار جاده پارک شده بود دست کم دو نفر که در داخل موتر بودند کشته و تعدادی از عابران زخمی شدند. هنوز عاملین این انفجار و علت بمب گذاری معلوم نشده است.

فراخوانی کمیته تدارک برای ایجاد اتحادیه آزادوسراسری ژورنالیستان افغانستان

ازآنجاییکه صنف ژورنالیزم افغانستان ازنبود یک اتحادیه واقعاً آزاد وسراسری بشدت رنج میبرد، دراواخر ماه ثور ۱۳۸۲ خورشیدی، کمیته تدارک برای ایجاد اتحادیه آزاد وسراسری ژورنالستان افغانستان به همت عده یی ازژورنالیستان شناخته شده درشهر کابل تشکیل گردید تابا همسویی و همکاری باتمام ژورنالیستان ودست اندرکاران عرصه های مطبوعاتی ونشراتی در جهت دستیابی به تشکل سراسری صنف ژورنالیستان درکشورکار وفعالیت نماید.

این کمیته برای ایجاد اتحادیه آزاد و سراسری ژورنالیستان افغانستان موفق شد درمدت کوتاهی صدها ژورنالیست را درمحورواحدی متشکل سازد .

بدینوسیله ازهمه ژورنالیستان ودست اندرکاران عرصه های مطبوعاتی ونشراتی درکشور تقاضامیشود که با پیوستن به کمیته تدارک برای ایجاد اتحادیه آزاد وسراسری ژورنالیستان افغانستان ، روند تدویر کنفرانس سراسری ژورنالیستان افغانستان وایجاد اتحادیه آزاد وسراسری ژورنالیستان افغانستان را تسریع بخشند.

آدرس : برای مراجعه کلوپ مطبوعاتی کابل جنب دفتر آیینه

به پدرم خیانت کردند

رغد، دختر بزرگ صدام حسین، رهبر حکومت ساقط شده عراق که به اردن پناهنده شده است در گفتگو با شبکه تلویزیونی ماهواره ای العربیه که در امارات متحده عربی استقرار دارد گفت که نزدیکان پدرش به او خیانت کرده اند.

به گفته رغد، سقوط بغداد ظرف فقط دو روز برای خانواده او تکان دهنده و غیرمنتظره بوده است.

وی در گفتگو با این شبکه تلویزیونی شرح داد که چگونه در شرایطی که نیروهای آمریکایی به بغداد نزدیک می شدند، صدام حسین موتری فرستاد تا او و خواهرش را همراه با بچه هایشان به خانه ای در حومه بغداد ببرد.

رغد در حالی از خیانت نزدیکان صدام حسین سخن می گوید که همسر خودش هفت سال پیش به اتهام خیانت به دستور پدرش کشته شد.

گفتگوی رغد در همان روزی از تلویزیون الجزیره پخش شد که شبکه تلویزیونی عربی الجزیره پیامی منسوب به صدام حسین را که در آن از مردم عراق خواسته می شد به هر وسیله ای که شده به مبارزه با نیروهای امریکایی در عراق برخیزند.

شکست مذاکرات تحویل متهمین نظامی امریکا به جاپان

جاپان و امریکا نتوانسته اند در مورد نحوه برخورد با نظامیان امریکایی متهم به ارتکاب جورایم جدی در جاپان به توافق برسند.

مذاکرات دو کشور چهل و پنج روز به طول انجامید اما اختلاف نظر آنها در این مورد مرفوع نشده است.

سخنگوی وزارت خارجه امریکا گفته است که با وجود تلاش واقعی برای دستیابی به توافق، اختلاف نظرهای جدی همچنان باقی است.

مذاکرات دو کشور در ماه جون و پس از آن آغاز شد که امریکا موافقت کرد یک تفنگدار امریکایی را برای محاکمه و مجازات در اختیار مقامات قضایی جاپان قرار دهد.

"این فرد که سرجوخه "خوزه تورس" نام دارد به تجاوز جنسی به یک زن جاپانی در جزیره اوکیناوا متهم است.

انتشار خبر وقوع این جورم باعث تظاهرات گسترده در جاپانی شد.

تظاهرکنندگان خواستار تحویل متهم به مقامات قضایی جاپانی و محاکمه و مجازات وی بودند.

چراراه های عملی جلوگیری ...

البته این یاد آوری آقای کرزی واحساس مسوولیت کابینه دولت، بارنخست نیست که برملا میشود بار های دیگر نیز صورت گرفته، ولی اقدامات عملی که باید به فرجام آید بررسی ومشخص نشده است. که کدام اداره وچگونه این جریان را پیگیری کند؛ زیرا مراجع مربوط که آقای کرزی بدان اشاره کرده اند، تاکنون که هزاران مورد آن در برابر چشمان مردم به شکل واضح و مشخص همه روزه جریان دارد، یک مورد آن مورد باز خواست وممانعت قرار نگرفته است. ولذا بهتر است مسوولین محترم دولت انتقالی اسلامی، راههای عملی وباز دارنده، آنرا بدقت مورد توجه قرار بدهند. یکی از راه ها برای اصلاح اداره وجلو گیری ازسوءاستفاده اگر باز خواست کردن از مقامات دولت بدلایلی ساخته نیست! کم از کم به انفکاک وتعویض کردن افراد واشخاص دست بزنند!

دریغا که همین امر هم دردستگاه دولت ایتلافی فعلی امکان پذیرنیست، زیرا بایک سلی چندین روی افگار میشود. ووقتی چنین است، دیگر چه چاره یی باقی میماند، جزاینکه همان مسوولین عالیرتبه به‌این مسئله مسوولانه عطف توجه نمایند، زیرا سرنوشت سیاسی خودشان نیز مورد سوال قرار میگیرد. ونا چارند درآینده برای مردم پاسخ گو باشند، درغیرآن با این حلوا گفتن ها دهن شیرین نمیشود.

حمایت روزنامه نگاران از محسن آرمین

جمعی از روزنامه نگاران ایرانی با انتشار نامه ای خطاب به "ملت ایران" از محسن آرمین، نماینده مجلس که اخیرا سعید مرتضوی، خارنوال تهران را متهم به اعمال فشار بر مطبوعات و دخالت در مرگ زهرا کاظمی، عکاس ایرانی کانادایی کرده و خواستار محاکمه وی شده بود، حمایت کرده اند. در این نامه که به امضای ۱۷۲ نفر از اعضای هیات تحریر روزنامه های هوادار اصلاح طلبان رسیده، آمده است: "ما روزنامه نگاران و اهالی مطبوعات ضمن انتقاد از جو محدودکننده آزادی های مشروع و تفسیر یک جانبه قانون به نفع یک جوریان خاص و نادیده گرفتن اصل یکصد و شصت و هشت قانون اساسی و بی اعتنایی نسبت به فلسفه وجودی و جوهره انقلاب اسلامی از آقای محسن آرمین نماینده محترم مردم در مجلس شورای اسلامی به دلیل اعتراض به محدودیت ها و فشارهایی که در فضای مطبوعات و روزنامه نگاری کشور ایجاد شده است، قاطعانه حمایت می کنیم و سخنان ایشان را در جهت ایفای وظایف نمایندگی مردم در راستای اصول قانون اساسی و حرف دل خود می دانیم."

بلژیک نمیتواند بوش و شارون را محاکمه کند

مجلس سنای بلژیک یکی از قوانین این کشور را که به محاکمات اجازه می داد متهمان به نسل کشی و جنایت جنگی در همه جای جهان را محاکمه کنند محدود کرد به گونه ای که از این پس محاکمات بلژیک فقط می توانند آن دسته از متهمان به جنایت جنگی و نسل کشی را محاکمه کنند که تبعه یا ساکن این کشور باشند. تغییر این قانون نتیجه تلاش گی ورهوفشتات، صدراعظم بلژیک است که پس از ابقا در سمت خود وعده داده بود این قانون را تغییر دهد.

با تغییر این قانون، محکمه های بلژیک دیگر نمی توانند افرادی همچون جورج بوش، رئیس جمهور آمریکا یا آریل شارون صدراعظم اسرائیل را محاکمه کنند که علیه آنها در این کشور پرونده تشکیل شده است.

قانون مزبور مانع از سفر مقامهای بلندپایه برخی دولتها به بلژیک شده بود.

جورج بوش بلژیک را تهدید کرده بود که اگر این قانون را تغییر ندهد مقر سازمان پیمان آتلانتیک شمالی (ناتو) از بروکسل پایتخت بلژیک به مکان دیگری انتقال خواهد یافت.

انفجار در ترکیه شانزده زخمی بجا گذاشت

دو انفجار در مقابل ساختمان وزارت عدلیه ترکیه در انقره، باعث زخمی شدن شانزده افسر پولیس شده است.

یحیی گور، گورنرانقره، گفت افرادی از نیروی پولیس درحال بازرسی یک بکس مشکوک بوده اند که انفجار رخ داده است.

قبلاً بکسی مشابه حامل بمب منفجر شده بود که تلفاتی در پی نداشت.

گورنرانقره گفت که هیچ گروه یا شخصی مسئولیت این انفجارها را نپذیرفته است.

In This issue

1- US Tries To Solve Pak-Afghanistan Border Crisis
2- Disarmament Program To Begin In Jozjan Today
3- Anti-Policemen Demo By Disables In Khost
4- Terrorist Attack Kills Woman And Child
5- Weapons Found In Herat
6- World Tries To Stop War In Liberia
7- Russian Hospital Bomb Blast To Be Investigated
8- Beirut Bomb Blast Kills Two
9- No Agreement Between The US And Japan
10- Turkey Bomb Blast Injures 16
11- My Father Was Betrayed
12- Northern Alliance Gathered To Form A New Party
13- Youth Page

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری" واحمدشاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud
Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
نمبر ستلایت: 008821621230544
eradadaily@hotmail.com Engineerjamil_amiry@yahoo.com